استاد ظریف امین یار ۲۰۱۶/۰۷/۰۴

# آیا داکتر غنی مصلحتی سیاستوال دئ

**سریزه:**
سیاست د جیگسا (Jigsaw) لوبې په څېر ده تر څو چې د يو انځور ټولي برخي پيدا او په سمه توګه يوځای نشي د مطلوب انځور تشکيل ناشوني کيږي. د ملي يوالي حکومت مشر ډاکتر غني که څه هم په يو اساس وخت کي د ملي يووالي حکومت انځور جوړ کړئ خو دغه انځور مطلوب او حقيقی انځور نه دی او د افغانستان لپاره بنه او روښانه راتلونکئ نه څرګنده وي.
ولسمشر ډاکتر غني د تخصص، جديت، کاری توان، تعهد او صداقت له اړخه يو پيژندل شوئ شخصيت دئ. هغه يواځي ۴ ساعت خوب کوي، هره ورځ د سهار ۵ بجو څخه مخکي له خوبه پاڅيږي او دوه ساعته مطالعه کوي. د هغه ليد لوری يو خود مختاره، خپلواکه، هوسا او ځان بسيا افغانستان دئ. د ۲۰۰۲ کال تر اوسه هغه تل څلور موخو لپاره کار کړئ.
**لومړئ:** د جګړه مارانو او جنګسالارانو څخه قدرت اخيستل.
**دوهم:** د افغانستان لپاره د با ثباته او ګټور ملي بنستونو تاسيس.
**دريم:** افغانستان ته شوي مرستو څخه په سمه ګټه اخيستل.
**څلورم:** افغانستان لپاره بنسټيز او اساسي کار تر سره کول ترڅو افغانستان يو بشپړ خپلواکه، پياوړئ او ځان بسيا هيواد په توګه خپل ملي غرور اعاده کړي.

ډاکتر غنی چي د پوهی له نظره په بشر پيژندني، او اقتصاد کي لوړ مقام لري، يو پرفيکشنست (Perfectionist) ذهنيت لرونکئ دئ. هغه خورا ملی پال (Nationalist) او وطن پال بريښي. په سياست کي د ماکياولي پيروان ښکاری او په ذهنی تفکر او پرورش کي د لوديځو سياسي، اقتصادی او ټولنيز تيورګانو څخه خورا متأثر دئ.بينظيره سياسی تيوريسن دئ ولی بيا په سياسي تطبيقی ميدان کي وروسته دي حکومت نيولو څخه تر اوسه پوري ډير ضعيف ظاهر شوئ، په آکاډميک برخو کي متخصص اما په سياسي ميدان کي نه دی لوبيدلئ او نه هم د سياسی فضا د تحليل هنر او مهارت يي تر اوسه جوته شوئ. د کيسو سړئ نه دی تل انزوايی حالت يي خوښيږي.
په تشريفاتی مجالسو کي يي زړه تنګيږي او په رسمی وويناګانو کي خپلو حرکاتو او احساساتو مديريت نشي کولای.
په رسمی کارونو کي ډير مايکرو مديريت يي خوښيږي او د خپل کامګئ او استبداد (Despotism) ښکار دئ.
ولسمشر داسي فکر کوي چي د هغه څخه نور هيڅوک ډير نه پوهيږي او خوښيږي يي چي په هره برخه کي ځان دخيل کړي. لږ څه ديکتاتوره مديريتی انداز لري او ډير په ډموکراتيکو بهيرونو باندی اعتماد او ويسا نلري. په مجموعي توګه د علمی او تطبيقی تيوريګانو د عرضي لپاره ډير ښه اما د سياست لپاره او د يو ملت د رهبرئ لپاره تر اوسه پوري ضعيف شخصيت او زعيم څرګند شوئ.

### آيا ډاکتر غنی مصلحتی سياستوال دئ؟

لکه څنګه چي تاسو هم پوهيږئ ډاکتر غنی په يو داسي وضعيت کي سياسي قدرت او واک تر لاسه کړ چي افغانستان کړکيچن فاز کي پاتي و. دغه حالت يا د کرزی د حکومت عدم موفقيت محصول وه يا هم د امريکا د عدم حسن نيت پايله وه. نظامي، اقتصادی او سياسي انتقالونه د ۲۰۱۴ کال دري مهم او د پام وړ انتقالونه ول او تر ډيره کچه پوري د همدغو دريو انتقالونو برياليتوب د افغانستان د ۱۴ کالو حکومت د موفقيت شاخص ګنل کيده. اما له بده مرغه چي دغه دري واړه انتقالونو کي د کرزي حکومت ناکامه شو. که څه هم نظامي انتقال کي چي د ډاکتر غنی مشرئ لاندي ترسره شو يو څه نسبي بريا تر لاسه شوي ده. اقتصادي انتقال خو يو خيالي انتقال و او د پيل څخه ښکاريده چي شوني نه ده. اما تر ټولو ډيره ضربه موږ ته بيا سياسي انتقال را پيښه کړه. دلته بايد ووايم چي د کرزي حکومت خپل مسووليت په هيڅ وجه په سمه توګه اداء نشوه کړئ او هيواد يي په لوئ لاس کړکيچ خوا ته روان کړ. يا په بله عباره داسي به ووايم چي د کرزي د حکومت عدم موفقيت د ننئ کړکيچ يو لوئ لامل دئ. داچي


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکې په خیر و لولئ

دغه کار عمداً شوئ یا که د کم کارئ له وجه شوئ د لږ منطقی تفکر په وسیله په ډاګه کیدئ شي. اوس نو په دغسې حالت کې حکومت ډاکتر غنی او ډاکتر عبدالله ته په شریکه توګه ترلاسه شو چې د پیل څخه ښکاریده چې بریا به یې ستونزمنه او یوه فوق العاده او لویه لاسته راوړنه وي. خلکو که له یوې خوا دغه حکومت د لومړئ ورځ څخه تحریم کړلو اما د بلې خوا یې تمه درلوده چې حد اقل ډاکتر غنی چې یو لوئ متفکر، متعهده، متخصص او روڼ فکره انسان دئ، به وتوانیږي افغانستان د دغه کړکیچن وضعیت څخه وژغوري. اوس دوه کالو وروسته خلک په دې پوه شوي چې د حکومت دغه موډل او خپله ډاکتر غنی د افغانستان جمهور رئیس په عمومي توګه ناکامه دئ.

ډاکتر غني واک ته د رسیدو پیل کې ښه سیاسي حرکات او اقدامات اجراء کړل. داسې ښکاریده چې ډاکتر غنی په سمه لار روان دئ اما ډیر ژر یې خپل ځان د واک کې پاتې کیدو لپاره ناوړو عناصرو ته په لوی لاس تسلیم کړ. د دغه سیاسي ناوړه جوړښت لاملونه ډیر دي مثلاً لومړئ لامل یې دا دی چې امریکا تر اوسه هم نه غواړي افغانستان کې یو مقتدره او ځان بسیا حکومت داسې منځته راشي چې یوه سیاسي حلقه په کې واک سمبال کړي. په بل عبارت د جنګسالارانو او ضد ملی عناصرو یو دم له منځه وړلو ته امریکا خوشحاله، خوشبینه او چمتو نه ښکاري. لکه څنګه چې تاسو هم پوهیږي ډاکتر غنی شمالي ټلوالې سره ژور اختلافات لري. دا کیسه او کشمش هغه وخت پیل شوه چې ډاکتر غنی د مارشال قسیم فهیم د وزارت یعنې د دفاع وزارت بودجه کمه کړه او ادعا یې وکړه چې دغه وزارت کې خیالي عساکر شتون لري. په غبرګون کې یې قسیم فهیم او شمالي ټلوالې ډاکتر غنی د مالیې وزارت څخه برطرفه کړئ شوه.د ډاکتر غني ګوښه کول د کرزی د حکومت یوه لویه ستراتیژیکه سهوه وه. کله چې ډاکتر غنی واک ته ورسیده هغو ټولو ډلو چې د ډاکتر غنی څخه لږ یا ډیره پیژندګلوي درلوده د خپلو سیاسی بقا لپاره یې مقاومت او اختلافاتو باندې لاس پورې کړ او د ډاکتر غنی لپاره یې بریا لا پیچلې او ستونزمنه کړه.
په دې که هیڅ تردید نشته چې ډاکتر غنی په ذاتی تفکر کې یو مصلحتی سیاستوال نه دئ اما که تاسو د ډاکتر غنی اوسنئ سیاست ته وګورئ نو د مصلحتی سیاست نفوذ په کې واضح ښکاری. که ستاسو پام وي په دې وروستیو کې ډاکتر غنی څو داسې پریکړې او ګمارنې کړې چې له ورایه ښکاري چې مصلحتی سیاست ته یې خوا کړېده. مثلاً بسم الله خان چې په فساد تورن دئ هغه یې تر اوسه پورې محاکمه ونشوه کړئ، همدغسې د اسماعیل خان د فساد دوسیو نظر انداز کول، د کورنیو چارو وزیر ټاکل او د فاورق وردګ ګمارنه وغیره. داسې هم ګنګوسې دي چې معنوی به د فساد په ضد د ادارې مشر شي که څه هم تر اوسه کوم رسمی فرمان په دغه تړاو نه دئ راغلئ. که معنوی د فساد په ضد ادارې مشر وټاکل شي نو د فساد په ضد د مبارزې تغر به افغانستان کې راټول شي.زه فکر نه کووم چې معنوی به وتوانیږي د دغه ادارې رئیس شي ځکه یو خو ولسمشر به یې تائید نکړي او له بلې خوا د ملت غبرګون به ډاکتر غنی دغسې کار ته پرینږدي. دغه ټولې پریکړې دا په واضح توګه څرګندوی چې ډاکتر غنی مصلحت ته په سیاست کې اوس خورا اهمیت قایل شوئ حتې ځینو مواردو کې د ملی ارزښتونو څخه هم د سیاسي مصلحت لپاره تیریږي. او دغه موضوع د افغانستان ملي ګټو سره په تضاد کېده. د حکومت په پیل کې هم د مصلحتی سیاستونو بیلګې شتون لري. مثلاً د کابل بانک د تورنو کسانو برات چې پکې حسین فهیم او محمود کرزئ او نور لوړ پوري چارواکي شامل دی. یا د هوښمند شهرک کیسه، د زاخیلوال مقرری، د قوماندان جان محمد د سلاح قضیه او نور.

لکه څنګه چې د هر یو حکومت یا سازمان د بریا لپاره د یو ګټور، متعهد، با تقوا، صادق او متخصص ټیم شتون اړین دئ. د ملي یووالي حکومت د بریا لپاره هم همدغه عنصر تر ټولو اهمیت لري. اما متاسفانه چې ډاکتر غني تر اوسه د یو ګټور ټیم د ودې موضوع کې پاتې راغلئ. د ټیم نشتوالئ د ډاکتر غنی تر ټولو لویه ستونزه ده. زما په آند ډاکتر غنی د ټیم نشتون له وجې مصلحتی سیاستونو ته یې غاړه اېښودلې. لکه څنګه چې تاسو پوهیږئ د ډاکتر غنی ټیم د کوم سیاسي ګوند محصول نه دئ بلکه د انتخاباتی کمپاین په بهیر کې په ډیر چټکئ سره جوړ شوئ. نو کله چې حکومت منځته راغئ په دغه ټیم کې ډیرې ستونزې منځته راغلې. ډاکتر غنی په دغو ټولو خلکو باندې اعتماد او باور ونشوه کولائ او دغه خلک هم د ډاکتر غني خوئ او عادت او د کار طرز او ذهنی تفکر سره ډیر آشنا نه ول نو ځینې چې وګمارل هم شول وروسته بیا ډیر ژر د سیاسي فشارونو له کبله منفک شول یا هم استعفا ګانې یې وړاندې کړې. هرڅوک ډاکتر سره کار نشي کول هغه یو کمپلکس مدیر دئ.
نو اوس موږ دې پایلې ته رسیدلئ شو چې د ډاکتر غنی اوسني سیاستونه به له شکه باید مصلحتی دي.د هغه طرز تفکر کې دغه بدلون یعنې مصلحتي سیاستوال باندې مبدل کیدل شاید هم د وخت تقاضا وي او یا دا چې تر اوسه هم


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

ډاکتر غنی ته د خپلو اهدافو د تطبیق زمینه برابره نه وي. په هرصورت اوسنۍ سیاست یې خلک د دولت په هکله بدبینه کړي او د دولت او ملت تر مینځ واټن یې اوږد کړئ دئ.
لاندي دري هغه دلایل وړاندي کیږي چي ډاکتر غنی یې مصلحتي سیاست ته مجبوره کړئ دئ:

### 1. بهرنی سیاسی فشارونه

که څه هم امریکي په ظاهري توګه تل د افغانستان د جوړلو ژمنتیا ښودلي او د افغانستان لپاره د ښه حکومت تشکیل او د ناوړو حلقو څخه د خلاصون شعارونه ورکړي اما سیاست یې فوق العاده سست عنصره، متزلزله، مغشوش او وضعیی دی. پرته له کوم ګمانه امریکا د ملي یووالي حکومت تشکیل کي مستقیم لاس درلوده او د ګډ حکومت نسخه هم د جان کیری( د امریکي د بهرنیو چارو وزیر) د ذهن محصول ده. کله چي ملی یووالی حکومت خپل په کار پیل کړ امریکا هم په ډاکتر غنی فشارونو واچول او موخه یې د یو ضعیف حکومت ساتل ښکاري. په دغه کشمش کي ډاکترغني د خپل د ټیم ډیر پیاوړي کادرونه چي افغانستان ته ژمن او متعهد، مستعده او با ایمان افغانان ول، له لاسه یې ورکړي دي. زما په آند د امریکي کوښښ داده چي افغانستان کي حکومت تضعیف شوئ او متکي وساتي او په واک کي څو مختلفي ډلي په یو وخت کي شتون ولري او له بل خوا موازي تشکیلات او قدرتونه په دغه حکومت کي وده وکړي ترڅو دوي په آسانۍ سره خپلو جیو سیاسي او جیو اقتصادي موخو ته ورسیږي.

### 2. داخلي سیاسي فشارونه

ډاکتر غنی په داسي حال کي ولسمشر شو چي تر اوسه پوري د افغانستان سیاسی میدان کي ډیر کم لوبیدلئ وو. نه یې ټیم درلوده او نه یې همفکران او نه یې سیاسي ګوند. فقط یو سیاسي ټاکنیزه ډله یې درلوده. کله چي واک ته ورسیده ډیر ژر په دي پوه شو چي هیڅ سیاسي قدرت او د خلکو حمایت نلري. په همدغه وخت کي په هغه باندي د څو اړخونو لخوا سیاسي فشارونه هم راغلل. د ټولو څخه لوئ فشار د طالبانو او پټ سیاسی اپوزیسیون یعنی د کرزی د ټیم لخوا پري واچول شو. نوري کړئ لکه حکومتي مجاهدین ورځ تر بلي کوښښ کوي چي د ملي یووالی حکومت بي اعتباره او ناکامه کړي. دغو ټولو سره څیني نورو مخالفینو هم په حکومت فشار واچول او خپلي تقاضاګاني یې څرګندې کړلې. ډاکتر غنی ډیر سخت وضعیت کي پاتي شوئ او ډیري پریکړې یې د مجبورئ له کبله اساس کړي دي. نو ځکه ورځ تر بلي د خلکو تنفر سره مخامخ شوئ.

### 3. د ټیم نشتوالئ

ډاکتر غنی په داسي حالت کي ولسمشرئ ته نوماند شو چي نه یې ټیم درلوده او نه یې کوم سیاسي ګوند. ډاکتر غني د یو ځانګړي فرصت په کارولو سره ولسمشرئ ته بریالئ شو اما د سیاسي ټیم تشه یې آن د لومړئ ورځي څخه څرګنده وه. کله چي یو سیاسي مشر ټیم ونلري ډادمني پریکړي نشي کولاځ. که څه هم ډاکتر غنی په پیل کي کوښښ وکړو د یو سلسله ښه سیاسي حرکاتو ترسره کولو سره سیاسي فشارونو سبوتاژ کړي اما ډیر ژر یې سیاسي فشارونه ته سر ټیټ کړ. د سر ټیټیدلو یو لوی لامل یې هم دا وو چي ډاکترغني ټیم نه درلوده او په هرچا باندي ډاډ ورته خطرناک ښکاریده. د ډاکتر غني نا معقولو او ضد ملی پریکړو کوم ټیم چي ورسره وه هم اکثره یې خفا کړي او په دي توګه شته ټیم ته یې هم ضربه ورکړې ده. په دي وروستیو کي ډاکتر غنی د خپل ټیم ګڼ شمیر کسان منفک یا له ځان څخه یې لري کړي چي دغه حرکاتو د شته ټیم ملا یې هم ماته کړي ده.

### پایله!

نن د ډاکتر غني تر ټولو څخه لویه ستونزه داده چي ټیم نلري نو ځکه سیاسي فشارونو ته باید سر ټیټ کړي او مصلحتي سیاست غوره کړي. ورځ تربلي د ډاکتر غني د ټیم څخه کسان ناراضه کیږي او ځي. دا په داسي حال کیده چي د اولس باور او اعتماد د ملي یووالي حکومت باندي بی نهایت ټیټ شوئ او ملي یووالي حکومت سیاسي برنامي هم په داخلي سیاست کي او هم په بهرني سیاست کي ناکامي شوي. یواځي په بهرني سیاستونو کي یو څه لاسته راوړني شته او یو څه هم د ملي پروژو لاسته راوړني دي چي هغه هم تر اوسه پوري عملي شوي نه دي. له بل خوا بیروني سیاسي محیط کي د افغانستان د حکومت ناکامئ او حتی سیاسي سقوط چرچي ورځ تر بلي په ډیریدو دي. اوس ډاکتر غنی عملاً د ټیم خلا سره مخامخ دئ او ارګ کي د بي اعتمادي فضا خورا مسایل یې د شعاع لاندي راوړي. ډاکتر غني او د ملي یووالي حکومت داسي حالت ته رسیدلئ چي حتا د یو وړی څوکۍ لپاره هم با اعتماده او متعهد کسان نلري. حتی وزیران او داسي نور لوړپوري دولتي چارواکي ورځ تر بلي خپلي استعفاګاني وړاندي کوي او حکومت متزلزله کوي. د ډاکتر غنی او د ملي یووالی د حکومت بریالیتوب یو اساسي فاکتور به داوي چي



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزي بڼي پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په خیر و لولـئ

بیا ټیم جوړونه کې بریالي شي او د حکومت مشري د رویې ثبات سره وکړل شي.که دغه کار کې ډاکتر غنی بریالئ شو بیا د حکوت ثبات به هم تامین شي او که نه نو بیا د حکومت پاتې کلونو به د ډاکتر غنی سیاسي ژوند اخري فرصت وي. نه ډاکتر غنی او نه هم ډاکتر عبدالله به سیاسي میدان کې بیا وشي ځلیدلئ. نو د موضوع اهمیت ته باید پام وشي او بیا ټیم جوړوني ته یوه جامع برنامه جوړه شي ترڅو د ملي یووالي حکومت خپل اسقرار تأمین کړي. نو تر څو چې ټیم نوي مصلحتي سیاست یواځنئ لاره د سیاسي بقا ده. ډاکتر غنی که څه هم د افغانستان لپاره ښه نیت لري اما په ټیم جوړني کې پاتې راغلئ او همدغه یې علت دئ چې مصلحتي سیاستوال تري جوړ شوئ. که دغه مصلحتي سیاستونه دوام وموميي او ډاکتر غنی لاهم د ټیم نشتون له کبله آسیب پذیره وي نو نه به د ډاکتر غنی آرمانونه د افغانستان لپاره عملی شي او نه به هم دغه حکومت د هیواد لپاره څه وکړي او حتي د ملی یووالي حکومت د سیاسي سقوط امکان هم شتون لري.

یکشنبه ۱۳ چنگا ښ ۱۳۹۵



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ